پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۲۱/۱۲/۱۷

# د پولی پالیسی مقاصد(Monetary Policy Targets)

## (پینځمه برخه)



کله چې موږ د پولی پالیسی څخه خبرې کوو، نو مطلب دا ندی چې ګواکې نن ورځ چې افغانستان له یوه ناورین سره مخامخ شو، دا بحث او دا موضوع ضروری شوه، بلکې د ملی منافعو سنجوونکی، ,ولس ته متعهد اودملی ملاتړلرونکی، دعامه ادار ې له لارې له قانون سره سم د خدماتو وړاندی کوونکي او د ملی اونړیوال ملاتړ او مشروعیت لرونکی هیوادونه او حکومتونه په هروخت کی دا ډول پالیسیګانی لری او تطبیق کوی یی. وروسته تر تطبیق څخه یې ارزیابی کوي.

دلته د ملی ترڅنګ د(نړیوال) او (نړیوال مشروعیت) ټکی هم راغلل. داځکه چې:

اوس ټول بشریت د بشر د حقوقو د نړیوالی اعلامیی سره سم؛ دنړی هر هیواد او هره څنده کې د بشر دحقوقو څارنه او ساتنه کوی، چیری چی دانسان مادی یا معنوی ژوند ګواښ سره مخ شی یا یی مادی او معنوی کټې متضرری او ورڅخه محروم شی، دنیا یی دفاع او ملاتړ ته دریږي. نو هغو هیوادو کی که داقتصادی بحران یا بلی پیښني له امله ولسونه ځوریږی، نړیوال یې په وړاندې حساسیت ښکاره کوي او آن دفاع ته یې رادانګي.

له بلې خوا دا هم باید هیره نه کړو چې نن ورځ د نړی د ټولو هیوادو بانکونه په یو عجیب شکل سره تړلی دي. اصلاً اقتصادی انضمام حاکم شوی دی، د نړی په هر ګوټ اوڅنده کې که اقتصادي بحران واقع کیږي او یا کوم لوی او کوچنی بانک له ورشکستګی،مالی افلاس اود سیالیت خطریا بلې ستونزی سره مخ کیږی، تاثیر یې ټولو بانکونو کی احساس کیږی،لکه د کرونا پاندیمی چې ټوله نړی ولړزوله، اقتصاد او اقتصادی پیښنې او د بانکونو وضعیت هم دغسی دی .

د پرمختیایی هیوادو ډیرو بانکونو دخپلی شتمنی یوه برخه (په بیلابیلو بڼو: نقد ډالرو، سروزرو، بهادارو اسنادو، د خاص برداشت حق... په شکلونو ) دنړی معتبرو هیوادو سره ایښي او هلته یی پشتوانه ګرځولی دي( پشتوانه باندې بل بحث کې خبرې کوو). اوس دوی پولی زیرمو ته ډیر اهمیت ورکوی او دنړی بانکی سیستم پولی زیرمو باندی حساب کوی. فدرال ریزرو، د بازل دبانکونو د څارنی کمیټه (BcBs/"Basel Committee on Banking Supervision")د هیوادونو او د هغوی د بانکونو جریانات په ذره بین سره تعقیبوی .


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

په ځو تیرو کلونو کې موږ وکولای شول د بانکي چارو برخو کې ګڼ شمیر ځوانان وروزو، دوی ته دمالی مدیریت، دبانکی خطرونو، بانکی نړیوالو اړیکو، قوانینو او ډیرو نورو برخو کې ترینینګ ورکړو. د نورو ډیرو مهارتونو ترڅنګ مو د بازل کمیټي له مشورو سره آشنا کړل او د (بانک) مجلي د دغي کمیټي ځینی مشورې ترجمه اونشرکولی. په داسي حال کی چې اقتصادی وضعیت او د افغانستان بانک او دملی پانګي د سلامتی او د خلکو ژوند موږ او هم نړی ته مهم دی او د دی ټولو په وړاندی د مسئولیت او تعهد احساس موجود دی، افغانستان او د افغانستان بانک نشی کولای ددغه جاری بحران په وړاندی بی تفاوته وي. په داسي وضعیت کې ضعیف افغانستان نه د ,WBاو نه د,WTO نه د IMF اونه دمسلکی – علمی مهارتونو اود IT دپراخه قوت او لوی ډګر سره مقاومت کولای شی او نه منطقوی سازمانو سره. دوی ټول هغه قوی عاملین دی چي فقط د اصولو، متقابلو محترمانه اړیکو او دوه اړخیزو تعاملاتو او تعهداتو له لارې ورسره ګوزاره کیدای شی او زموږ ګټي تامین کیدای شی، دوی یوه سره هم په ټوپک او وسله جګړه نشی کیدای، موږ د دوی په وړاندی ډیر عاجز اوبی وسه یو، فقط دا اصولی، علماً تنظیم شوی پالیسی، بین المللی او د بانکونو ذات البینی عرف دی چې موږ د دی جوګه کیدای شو چې دوی سره چلند ولرو، پرته له هغه مو ډیر ژر لاندی کوي، دوی هر یو پرته له جنګه په یو ساده تصمیم سره موږ لاس پورته کولو ته اړ کوی،



*د بازل د کمیټي ودانی*

نوبهتره ده چی د ولس د هوساینی ، د ملی منافعو د ساتنی او د ملی پیسو او ملی ګټو د ژغورنی او د بانک او پانګي د سلامتیا پالیسی زده کړو او تطبیق یي کړو.

اوس ډیرو هیوادوخپله اقتصادی وده، پولی زیرمو پورې تړلی او پولی زیرمی تولیدوونکی پانګه جوړوی. پولی سیستم د پانګي او دپس انداز دبازار اصلی عنصر دی. دپولی پالیسی په طرح کې باید هیره نشی، چې دولت باید پولی موسسات یا وسیطونه اخلال نکړی. داځکه چې پولی موسسات باکفایته پولی سیستم تضمین کوی او باکفایته پولی سیستم اقتصادی وده تضمینوی. مهمه ده چې دولت یا حکومت داسي اتوریته ولری چې خپل ارشادی نقش ادا کړای شی. که دبحران شرایطو کې د ولس نارضایتی او مظاهری او ګیلي رواني وی، دولتونه په دې ډول حالت کې په مدنی جریاناتو ارشادی نقش څه چې د مشروعیت ادعا نشی کولای ، له دې پرته د کفایت اوسراسری عامه اداری سوال رامنځته کیږی.

د پولی زیرمو او د مقاصدو په ترلاسه کولو کې یې باید پوه شو چې دپس اندازونو، سپماوو، جاری حسابونو، پشتوانی، زیرمو(قانونی او احتیاطی)... لنډه داچی د ولس له اعتماد او د بانک له مشتریانو پرته اقتصاد له پښو غورځي.

په ګډوډ حالت کې که پولی پالیسی جوړه هم شی، بیا هم نشی کولای چې د خپلو وسایلو په واسطه په مستقیم ډول نهایی اهداف(وده، قیمت ثبات او داسي نور) ترلاسه کړي. باید په یاد ولرو چي لومړی د پولي پالیسي وسایلو په واسطه


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

منځګړي مقاصد(intermediate targets) په مستقیم ډول متاثره کیږي چې د دوي تاثیر په نهایی اهدافو باندي غورزیږي او نهایی اهداف تر لاسه کیږي. دغه منځګړی مقاصد تر لاسه کول، بانکونه دپولی پالیسی اهدافو ته نږدي کوي. منځګړي مقاصد په لاندې ډول دي.

Money supply

bank credit

Interest rate

ښه مقصد او هدف( SMART) وي. د دې لپاره چي يو غوره هدف منځته راشي باید هدف(target) لاندي ځانګړتیاوې ولري:

1 . Specificیعنی باید معین یا ټاکلی وی.

۲-Measurabilit(د اندازې وړ): هدفي متحول باید د اندازه کېدو وړ وي په اندازه کي باید لږ او یا هېڅ وخت خنډ اوتاخیر (ځنډ) نه وي. د دې لپاره چي دغه شرط پر ځای شي، نو باید واقعي او صحیح ارقام (data) باید موجود وي. ډاټا باید د هدف تېوریکي تعریف تاید کړي (په مکمل ډول د هدف په مطابق وي)،

۳- Attainability (د لاسته راوړلو وړ): هدف باید لاسته راوړلو وړ وي او پولي مسئولین باید د دې وړتیا ولري چې هدف تر لاسه (attain) کړي. هدف چې تر لاسه کېدل یی شوني نه وي باید عملي نه شي. پولی ټارګیټ چې تر لاسه کېدونکی وي دا ځانګړتیاوي لري:

اول) د پولي پالیسي وسایلو په واسطه زر اغیزمن کیږي.

دوهم) غیر پالیسی متحولین پرې هېڅ یا کم تاثیر کوي.

٤-Relatedness to goal variable(پولي پالیسي پورې دهدف مربوطوالی): هدفي متحول باید د پولي پالیسي نهایی متحول سره ډیر نږدي ارتباط ولري او دغه ارتباط باید په واقعي ډول سره د اندازه کولو وړ وي.

٥ -Time bound همدا راز مقصد او هدف باید ټاکلی وخت ولری، او مراحل او نهایی موده یی معلومه وي.

(بحث دوام لری)



برای مطالب دیگر *پوهاند محمد بشیر دودیال* روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com